# د سهيلي پښتونخواه په پښتو ناول کښې د ښځې انځور او ټولنيزي ستونزې
## (Woman depicted in Southern PashtoonKhwa Pashto Novel)

ناهيد علي*

**Abstract**:

Women contribute to the development of a society provided their due role is considered but in societies where women are confined to a limited boundary in tribal setup; the pace of developments remains slow in such societies. Author of this paper strive to unpack the issues related to women in the novel of Southern Pashtoon Khwa.

**Key words**: Pashto Literature, Novel, Gender, Women.

پښتني ټولنه تر اوسه لويه قبائيلي ټولنه ده ځکه په کښې قبائيلي ذهنيت ته وده ورکول کيږي او د ښاري ژوند خوندونو څخه لا بې خبره پاته دي. په داسي حال کښې د ښځي سره چې کومه رويه کيږي د هغې غندنه کول په کار دي. ولي چې په نيژدې وختونو کښې لاهم په وژنو کښې داسي روغې جوړې شوي دي چې په کښې خور يا لور ورکول شوې ده. د هغې خور يا ژوند چې د وژل شوي په کور کښې څه ډول تيريږي هغه بېخي بد وي. له بلې خوا له ښځې په کورونو کښې چې کومه رويه کيږي، هغه د نارينه له ژوند سره ډېر لوی بېلتون لري.

پښتانه که څه هم مسلمانان دي او په فخريه انداز دا خبره کوي چې پښتانه په يو وار مسلمانان شوي دي او په پښتنو کښې کافران نشته. يا دا چې پښتانه تر هر قوم زيات د اسلام پالونکي او خوښوونکي دي. خو د ښځې په هکله د دوی دغه خبره کښې تضاد په نظر راځي. له ښځې سره داسي چلند نه کيږي چې پوره پوره حقوق ورکول شي بلکې د ښځې په پرتله و نر ته زياته توجه ورکول کيږي. خو اسلام داسي نه وايي. اسلام د ښځې او نر حقوق په ځيني ځايونو لکه ميراث وغيره پرته نور ځايونو کښې ښځه ههغسي انسان ګڼي لکه نر. و ښځه ته د تعليم، نان و نفقې، وراثت او ژوند حقوق ورکوي لکه و نر ته چې ورکړي دي، خو پښتنه ټولنه کښې پر دې بېخي لږ عمل شوی دی. په قرآن کريم سورة البقره کښې فرمان الهي دی:

"وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ " (1)

**ژباړه**: او د ښځو دپاره داسي حقوق دي لکه کوم چې د دستور مطابق د دوی ذمه دارياني دي.

د ښځې د ژوند دغه انځور د پښتو ادب ناول ليکونکو په خپلو ناولونو کښې په زړه پوري انداز کښې وړاندي کړئ دی. د دوی د ژوند هغه اړخونو او ګوټونه يې را څرګنده کړي دي چې له کورني

* Lecturer, Deparment of Pashto, UOB, Quetta

ژوند سره تړاو لري او و ټولنه ته خو د يوې ښځې د ژوند تاو تريخوالی هغه وخت په نظر راځي کله چې له دې سره يوه داسي خونړۍ پېښه وشي چې د پټېدلو نه وي.

د پښتو ناول په توګه که د ښځي په هکله خبره وشي نو د هر کور هر کلي يو کيسه ده چي په پښتني ټولنه کښي هغه ماشومه وي که پېغله وي که مور وي که خور وي که لور وي که نږور وي، نو د مصيبت يو علامت ګڼل کېږي. چي په ښځه باندي هر رنګ ظلم وشي خو هغه په خپل ځان او پخپل ذات باندي برداشتوي. خو چاته د خپل زړۀ حال په دې نۀ شي وئيلائ چي د کور قوم او قبيلې عزت خوندي کولو دپاره هر څه پر زړه تېروي او ځان داسي ښکاره کوي چي ډېر ښۀ او مطمئن ژوند تېروي.

د سهېلي پښتونخوا د ناول ليکونکو هم د ښځو و ژوند ته پام لر نه کړې ده. د دوی د ژوند هر اړخيز انځور يې په خپلو ليکونو کښې وړاندي کړئ دی بلکې که دا ووايم چې په سهېلي پښتونخوا کښې چې د ښځې د ژوند څومره د سهېلي پښتونخوا د ناول ليکوالانو له خوا وړاندي کړل شوئ دی، په ټوله پښتونخوا کښې ليکوالانو په داسي انداز کښې نه دی وړاندي کړئ. په پښتنو کښې و ښځه ته خپل عزت هم وئيل کيږي ځکه د ښځې ژوند ببخي په پرده کښې ساتل کيږي. د ښځو په هکله مشهوره ده غوښې د خسرګنۍ او هډوکې د پلارګنۍ دي، پر دې اساس د پلارګنۍ حق د ښځې په طرف دارۍ کښې هغه وخت وي چي کله يې هډ مات د خسرګنۍ له خوا مات کړل شي. ځکه د سهېلي پښتونخوا د ځينو ناول ليکونکو پرته پر دې موضوع ليکنې ببخي لږ شوي دي. په سهېلي پښتونخوا کښې چې د ښځې د کورنۍ ژوند پرته د دې د پرائيويټ ژوند څخه هم پرده پورته کړې ده، په هغوی کښې يو افضل شوق او بل راز محمد راز دی. يعني دغه دوه ليکوالانو د ښځو د جنسي ژوند په هکله بېلا بېل اړخونه په خپلو ناولونو کښې په ګوته کړي دي. خو دا مقاله و دې خوا نه بلکې د ښځو پر عمومي او کورني ژوند يو نظر اچول دي، چې له ښځو سره څه ډول چلند کيږي او د سهېلي پښتونخوا ناول ليکونکو د ښځو دغه انځور څه ډول په خپلو ناولونو کښې راوړئ دی.

د سهېلي پښتونخوا لومړی ناول د ناظر صادق دی چې وچه لښته په نامه په ۲۰۰۵ کښې د پښتو ادبي غورځنګ کوټې له خوا خپور شوی دی. په دې ناول کښې هم د ښځو د کورني ژوند په هکله ډېر څه شته. نامتو کيسه ليکوال زرين انځور ليکي:

> "وچه لښته پر کورنيو اړيکو هم غږېږي، په پښتني کورنيو کې د خوابښې او نږور پر اړيکو او بيا په همدغو اړيکو کې د پېړيو- پېړيو د پښتنتي ژوند پر نيمګړتياوو، دا ناول يوه په زړه پورې برخه ده. موږ ټولو پښتنو ته لازمه ده چې د خپلو کړو وړو، د خپل ژوند او ژواک پر دغو بد مرغو اړخونو نوی نظر وکړو." (2)

وچه لښته يو داسي ناول دی چي زړۀ کاږي په دې کښي د مېرې مور ظلم و ستم يو داسي داستان دی چي په هر کور کښي روان وي. په دې ناول کښي د يوې ښځي ظلم و ستم بلي ښځې باندي

حکمراني او خپل زور ښکاره کړی دی. چي چېري يوه ښځه او نجلۍ مجبوره شي، نو هغه تر څومره پوري لا ځان هم بې بس شي او زياتره ښځي د خپل زړۀ د تسکين دپاره په بله انجلۍ او ښځه باندي سختي کوي . هغه ښځي ته حوصله خو نه ورکوي البته هغه نور خواروي چي هغه خپل له ژونده هم بېزاروي او د مرګ خواست کوي خو دا ژوند نه خوښوي. دغه ډول يو زړۀ خوږوولو قصه هم په دې ناول کښې ده اوس به خپل دغه کردار ته توجه ورکړو چي هغه سره څومره ظلمونه کېږي او هغه ژوند څومره ترخه وي.

ناظر صادق په خپل دغه بره ياد شوي ناول کښې د پښتنو ټولنه کښې د ښځو پر تريخ ژوند خبري کړې دي. دی يو ځای ليکي:

"ورېنداري... زرغونې په خښم ورته وويل... زما يوه خبره واوره .... ته هيڅ حق نه لرې چي ته زما او زما د پلار په منځ کي ورغېږې.... خپل تېر وخت دي هېر سو.... مه هېروه خپل داغ داره وخت.... ته زما و مخ ته اوس يوازي يوه کونډه ښکاره کيږي.... او کونډه هيڅ حق نه لري چې و چا ته نصيحت وکړي...! " (3)

په ورکړل شوې حواله کښې يوه ښځه د بلې ښځې سره زياتوب کوي. په کار خو دا وه چې ښځې خو به د ښځې خيال ساتلی . د ښځې د پاته ژوند احساس له ښځې سره بايد تر ټولو زيات وای. ولي چې ښځې دا و په خپل ژوند کښې تېري کړي دي.

دلته چې تر ټولو د زړه دردوونکې خبره ده هغه دا ده چې په خښم يو پېغور ورکوي او ورته وايي چې ته يوه کونډه يې. کونډه هيڅ حق نه لري چې چا ته نصيحت وکړي. دا يو داسي مائنډ سيټ دی چې د نر او ښځو په دماغونو کښې پروت دی. ښځينه او بيا کونډه داسي ښکاري لکه انسان چې نه وي. که هغه مشره وي هم و هغه کونډه ته هيڅ اختيار نشته چې تر خپله ټاکلې دائره ووځي. کومه دائره چې د دوی له خوا ټاکل شوې ده او ښځينه، په زياته هغه ښځينه چې دا کور له راوړل شوي وي، يعني د دې کور نه وي، نو بيا هغه ډول درناوی نه ورکول کيږي لکه کوم چې د دغه کور ښځو ته ورکول کيږي.

ناظر صادق يو ځای په خپل ناول وچه لښته کښې ليکي:

"ورېنداري ... زرغونې د خښمه چيغه کړه... ته ما پر دې مجبوره کوې چي تا زه له دې ځايه څخه په ديکو ديکواوباسم. ... ښه به دا وي چې ته پخپله په پټه خوله له دې ځايه ووزې...!"(4)

يعني نوبت دې ته هم رسېدلای شي چي يوه ايندرور و خپله ورېنداره ته داسي وګائيږي او د نرګاړو په ډول د بل د کور څخه را واده کړل شوې ښځه باندي اختيار وچلوي. هغه له کوره ايستلای شي او هغه ته هر حکم ورکولای شي. دا خو بله خبره ده چې د يوې ښځي مېړه دي مړ وي او هغه دي له

نورو کور والاوو سره ژوند کوي، په داسي حال کښې به د هغه کور د ښځو خبره هومره مني لکه څه ډول چې د سړيو حکمونه پر ځای کوي. دا د ښځو په هکله د قبائيلي ټولني يو بل اړخ دی.

ثمينه د ناول مرکزي کردار دی او زاهده ئې ميره مور ده. د دې خپله مور مړه شوې، اوس نو پلار بل وادهٔ له زاهده سره وکړ. دا زموږ په پښتني ټولنه کښې ډېره عامه خبره ده چې د يوې ښځې مېړه شي نو سړی بل وادهٔ کوي او خپلي بلي ماينې په فرمانبرداري کښې خپله اوله ماينه او هغه کوشنيان وېر کړي.

دغه ډول په يو بل ناول کښې د ښځينه ژوند عکاسي په يوه پېراګراف کښې په ډېر ښه انداز شوې ده او د ټول ژوند نقشه يې داسي راکښلې ده چې د يوې واده کړل شوي ښځې کورنۍ په خپله خور يا لور باندي دومره ويرجن وي چې هر وخت يې پر زړه وي. لکه:

" شاه عالمه زويه! موږ هم خدای نه وژلو. دا سپين سترګې او بې حيا زمانه يې راليده. داسي وخت راغلی په واده لور او خور به دي هم زړه ختلی وي. تل به دا وسوسه درسره وي، نن به يې پر يښې وي، نن به يې بن پر کړې وي، نن به بې قدره وي. نن به وږې وي، نن به تږې وي." (5)

د ټولني له ناوړه دودونو او زاړه روايتونه په دې ټولنه کښې داسي ښخ معلوميږي چې د خپل لخت جګر بل کور ته ورکولو کښې سړی يو ډول وحشت محسوس کوي. که هر څو له دې پرته ژوند ګران دی او د واده پرته د ژوند لړۍ پر مخ نه ځي. له ټولني سره د تړون يوه لار دا هم ده چې انسانان يو بل سره په مذهبي، کلتوري او اخلاقي دائرې وپالي. دا خو مجبوري ده ليکن د انسانيت چې کومه تقاضا کيږي هغه دلته نه ښکاري. تر ډېري اندازې په ښکاره چې د کومو رواياتو پرچار کيږي، په عملي ژوند کښې کله هم پر دې عمل نه دی شوی. د دې رواياتو څخه بغاوت په کار دی. دغه فرسوده او زاړه روايات له منځه وړل په کار دي. لکه د سهېلي پښتونخوا يو ناول نګار چې د ښځي په خله داسي وايي:

"هو زرلښتي خوري! اوس زما د ژوند يو مقصد دی چې د دلاور راکړی امانت داسي تربيه کړم چې د دې ټولني د ټولو غلطو رواجونو او رسمونو خلاف د بغاوت علم پورته کړي." (6)

په دې ټولنه کښې داسي کردارونه ډېر په نظر راځي چې و ناوړه دودونو ته پکی وهي. د دوی په داسي دودونو کښې ګټه وي ځکه يې له منځه نه وړي. دغه ډول کردارونه د کلي د خان، ملک ، ملا او نورو په مخ کښې عملي کيږي او د دې ناوړه دودونو په ضد څوک د راپورته کېدلو جرات هم نه شي کولای. د ټولني د خواري او غريبي ډلې دپاره خو بيا داسي دي چې په هر حال کښې به يې تر سره کوي.

د سهېلي پښتونخوا يو بل ناول "طالبه خدای که به ملا شي" چې ليکوال يې ډاکټر نصيب الله سيماب دی، پر ټولنه د نورو نيوکو سره سره دې اړخ ته هم اشاره کړې ده. لومړی خو دا ناول د ټولنې د يو داسي کردار په هکله ليکل شوی دی چې د ټولنې د خوارې او ځپلې طبقې سره اړه لري. پر هيڅ قدرت نه لري او بيا چې کله قدرت و مومي، ښکاره خبره ده چې د محروميانو په بدل کښې به رد عمل ښکاره کوي.

په دغه ناول کښې د ښځو له غير انساني رويې، په زياته له ښځو سره داسي رويه کول چې د هغې ژوند تنګ کړي او هغه تر خپل تسلط لاندي راولي، ورته اشاره شوې ده. په دې ناول کښې يو ځای د طالب عبدالولي مور د ده د اقا د کور والاله خوا دا رويه ورسره کيږي. د ده د اقا د زوی نوم سليم دی. د سليم مور چې د طالب عبدالولي تنداره ده، د عبدالولي و مور ته دا پېغام ورکړئ چې د دوی غوجلې ورصفا کړي. د عبدالولي مور ورته يا کړي دي. کله چې د عبدالولي خور وزېږي نو پهلوان اقا چې د عبدالولي طالب پلار دی، د سليم مور له ورسي او ورته وايي چې څه غوړي راکړه. خو هغه غوټ ځواب ورکړي او ورته وايي چې دا دغسي ښه ده، ما ورته ووئيل چې زما غوجل را جارو کوه خو دې زما په خوله نه وکړو، ځکه اوس دا په دغسي حال کښې ښه ده.
ناول ليکونکی په دې نظر دی چې په دې ټولنه کښې د ښځې استحصال نه يوازې نر کوي بلکې ښځه چې کله واک او اختيار ومومي نو هم له بلې ښځې سره ناوړه چلند کوي.

د سهېلي پښتونخوا ځيني ناولونو داسي دي چې په هغوی کښې د ښځو و جنسي ژوند ته اشاره شوې ده. په دې ناولونو کښې د افضل شوق ناولونه يادولای شو چې زياتره په کښې غربي کلتور په بڼه کښې وړاندي کړل شوی دی. ځای په ځای يې د ښځينه هغه ژوند باندي هم مباحث شتون لري. دغه ډول د راز محمد په ناولونو لکه عاشو لمر او باران اووري، يې ښه نمونه ګڼلای شو. په دې ناول کښې ارواښاد راز محمد د ښځينه ژوند هغه برخه باندي د ناول په ژبه کښې ښه را ته څرګند کړئ دی چې په پښتني ټولنه کښې ښځه له څه ډول ستونزو سره مخامخ کيږي.

له دې پرته د عبدالقادر مجرم په يوه ناول کښې چې نوم يې بختيالۍ دی، د يوې باهمته ښځې کردار وړاندي کړئ دی، يعني د ناول مرکزي کردار دی . دا کردار ښځينه او بيا داسي ښځه چې د دې ټولنيزو ستونزو سره سره دا خپل ژوند داسي کوي چې د ټولنې د طنز او پېغور پروا نه کوي. د دې ناول په رڼا کښې وئيلای شو چې د ټولنې کومه وده شوې ده، تهذيبي پرمخ تګ يې کړئ دی، هغه د اميد يو بڅرکی دی. د اميد دغه بڅرکی ورو ورو په سکروټه اوبيا په لمبه بدلېدو هيله ده.

که د ا بحث را ونغاړو نو په دې پائيله رسيږو چې لومړی خو د سهېلي پښتونخوا کومه پښتنه سيمه پرته ده، هغه کښې له ښځي لږ سلنې پرته ، نور ټول ژوند قبائيلي دی. بلکې که دا ووايو چې د سهېلي پښتونخوا ښاري ژوند هم د قبائيليت بڼه لري. پر دې اساس وئيلای شو چې په دې سيمه

کښې د ښځو او نرانو ژوند ډېر توپیر سره لري. که څه هم اوس لږ څه نه څه ژوند د بدلون و خوا ته روان دی، چې ښځینه یې یوه نیمه په عصري زدکړو لاس پوري کړې دی. یاني لږ فیصدي ښځې داسي دي چې هغه لوست او لیک کولای شي، له دې سوبه په خپلو حقوقو پوهه دي او د خپلو حقونو غوښتنه هم کوي. له دې پرته په نارینه کښې هم د پوهې او شعور برخه زیاته شوې ده ځکه د ښځې ژوند د بدلون و خوا ته خاړپوسي پېل کړي دي. البته د دې سیمي په ناولونو کښې چې د ښځې د ژوند کوم انځور وړاندي کړل شوی دی، هغه کښې ځیني ځایونه مبالغه او لویه برخه یې د ټولني د ښځینه ژوند انځوریې وړاندي کړې دی. د دې سیمي لیکوالانو په خپلو لیکنو کښې د ښځې انځور ډېره ښه وړاندي کړې دی او د دوی ټولنیزي ستونزو ته یې هم ښه نظر کړې دی. بلکې په سهېلي پښتونخوا کښې د پښتو د ناول لیکونکو له خوا لیکل شویو ناولونو کښې د ښځې د ژوند هر اړخ په نظر کښې ساتلی دی. د ښځې و کوشنیوالي ته یې پام کړې دی. د ښځینه ژوند هغه برخه چې دا په کښې د یوې انجلۍ په ډول ژوند کوي، بیا لویه شي او د ټولنې له خوا، د خپل کور له خوا او د نارینه یا نرانو له خوا په دې وخت کښې دا له کومو ستونزو سره مخامخ کیږي، دا ټول په دې ناولانو کښې په ډېر ښه انداز وړاندي شوي دي. له دې پرته د ښځې ژوند له ښځې سره څه ډول تېریږي؟ کله چې دا په خپل کور کښې وي، بیا د بل کور ته ولاړه شي او هلته له خواښکي، ایندرندو، یور او نورو سره څه ډول اړیکي وي، او له څه ډول ستونزو سره مخامخ کیږي، دا کیسې او لانجې په دې ناولونو کښې ځای په ځای راوړل شوي یا اشاره ورته شوې ده. پر دې اساس د سهېلي پښتونخوا په پښتو لیکل شویو ناولونو کښې چې د ښځې د ژوند کوم انځور وړاندي کړل شوئ دی، د هغه په هکله به ووایو چې دا هڅې ښېخي لږ دي. د معیار او مقدار په دواړو حوالو دغه کار د نیشت برابر دی. په دې ناولونو کښې هغه خوند شاید په دې نه وي چې لیکوالانو د ښځینه ژوند ستونزي په ښه توګه نه احساس کړې دي او نه یې احساس کولای شي، البته یو کوشش یې ضرور کړې دی.

خو د پښتو ادب په دې برخه کښې د نور زیات کار کولو ضرورت دی. د لوی پښتونخوا پر سویه پر دې کار کول اړین دی. البته په سهېلي پښتونخوا کښې هم په دې هکله کار کول ضروري دی. په سهېلي پښتونخوا کښې ښځینه لیکوالانې هم شته که هغه په دې برخه کښې کار وکړي دا به نور هم ښه وي. لکه څنګه چې ما یادونه وکړه چې د ښځو د ستونزو احساس یوائې ښځه کولای شي.

## حوالې

(1) (البقرة:۲۲۸ )

(2) صادق، ناظر، وچه لښته، ۲۰۰۵، پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، یونائټډ پریس کوټه، مخ ۵

(3) صادق، ناظر، وچه لښته، مخ ۶۳، ۶۴

(4) صادق، ناظر، مخ ۶۴، ۶۵

(5) مجرم، عبدالقادر، ورته ګوري به جانان، هېواد ادبي یون کلاسیف الله، مخ ۵۷

(6) تابان، ډاکټر لیاقت، دارلامان، ملګري لیکوال کوټه، فروري ۲۰۱۷ع، عامر پرنټ اېنډ پبلشرز پېښور، مخ ۱۳۰